عبدالمجيد راغستانی ۲۰۱۳/۰۹/۱۳

# اولا ګلونه سوځي د ډير انتظار وروسته له چاپه راووت

دا کتاب د ښه صحافت او کيفييت په درلودلو د چاپه راووت.کتاب د ځينو تخنيکی غلطيو سره ،سره د ډيرو خلګو پاملرنه ځان ته وروا ړول،ښايي دا څو علتونه ولري:

- د ډيرو کړکيچونو حالاتو،جګړو،او ناخوالو او مختلفو رژيمو د حاکميتونو وروسته ښايي دا لومړئ ځل وي چي د هيواد د ښځو ژوند په هراړخيزه توګه په يوځيړندويه اثر کي ځيړل سويدئ.
- د ليکوال ځاني مصونيت (که څه هم هغوی چي د هيواد په داخل کي ليکنی کوي د اطلاعاتو پراخي سر چيني لري او لومړي لاس اسناد او شواهد پيدا کولای سي،خو د شخصي مصونيت د نه درلودلو په دليل کيدای سي له ځينو واقعتونو سترګي پټي کړي،او يا هم خپل ژوند په خطر کي واچوي، خو ښاغلی نعيمي چي اوس د هيواد نه بهر اوسيږي دا د واقعيتونو د ليکلو د پاره يو امتياز بلل کيږي.)
- د ليکوال پراخي اړيکي.ښاغلی محمد ابراهيم نعيمي د پراخو شخصي او سياسي اړيکو تر څنګ د هيواد او نړۍ د مالوماتي کړيو په تيره بيا د انترنيټي ويبپاڼو سره نه يوازي پراخي اړيکي لري ،خپله هم د يو مشهوري ويبپاڼي درلودونکی دئ.
- د ليکوال بی پريوالئ (بی طرفي) .سربيره پر دی چي ډير کم افغان روڼ اندي به د بيطرفۍ دعوه و کولای سي خو ښاغلي نعيمي د خپلي ويبپاڼی د مديريت په مدت کي دا وښوده چي د هر ډول نظرياتو اوريدونکی او لوستونکئ دئ او بيلا بيلو نظرياتو او عقايدو ته نه يوازي احترام لري بلکي په ورين تندي يې په خپله ويبپاڼه کي خپرويتر دې لنډی يادونی چي را تير سو او د کتاب پر منځ پانګه و ړغيږو ،د ښاغلي نعيمي منډی،ترږي او زيار د قدر وړ دئ.واقعيت د خبري دادئ چي ښځه زموږ د ټولني تر ټولو خوار،رټلسوی او محروم انسان دئ،که رشتيا ووايو او د خپلي ټولني واقعيتونه وګورو کله،کله خو د يو عادی حيوان حيثيت هم نلري.سربيره پر دي چي ديني عالمان ،روڼ اندي لوی او واړه بی سواده او باسواده په دي عقيده دي چی ښځه د انسان نيمايي ده،ښځه مور ده،ښځه خور ده،ښځه لور ده،ښځه د نارينه د ژوند ملګرې ده،په يوه کلمه کی ويلای سوچي بی له ښځي ژوند ناممکن دئ.د اسلامی شريعت په اساس ښځه او نارينه يو د بل لباس دي.خو د دې ټولو خبرو سره ښځه زموږ په هيواد کی نه يوازي غمځپلی انسان دئ ،بلکی تر ټولو بد بخته او ترټلی موجود دئ.زما د سترګو ليدلئ حالات او د هيواد په کچه په بيلو سيمو کی هغه وهل او ټکول چي ښځو ته ور کول کيږی هم هغه پهلوان ميړه يی خپل خره، غوايی ،سپي او نورو حيواناتو ته نه ورکوي.ښځه په قمار کی بايلل کيږی،په جنګي سپي بدليږی،د تعليم او تحصيل خبری خو څوک يادولای نه سی.په کلونو،کلونو د پلار ،ورور،خور او نورو خپلوانو له کورونو منع کيږي.

په کليو او بانډو کي خو نارينه د ټوپکو سره پيتاوی ته ناست وي بانډارونه او مجلسونه کوي او دا بد بخته ښځي د کور د کارونولکه پخلي،کالي پريولل،اولادونه سامبالول،څارويو ته خوراکه ورکول سربيره په کيلومترونو جګو غرونو نه لرګي او بوټی په سر باندي را وړی،د اوبو راوړلوکيسه هم داسی در واخله.د ديموکراسي په اوسنی دوره کي خو ښځه د کورولا ټويټا سره بدليږي،البته د نجلۍ ښايست او د کورولا ماډل سره تړلي دي.

زما هدف داوو چي د دغو ناخوالو او په زرګونو نورو ناويلو د را سپړلو د پاره (او لا ګلونه سوځي) کتاب يو ډيره ښه پيلامه ده.ليکوال هڅه کړی ده چی د افغاني ټولني د تاريخ په بيلو پړاونو کي د ښځو ژوند، کار او د ناخوالو پر ضد د هغوی مبارزی او هلي ځلي راوسپړي،په افغاني ټولنه کيهغه ناوړه دودونه او رواجونه په ګوته کړی چي د ښځو ژوند يی په يوه بی رحمه زندان بدل کړئ دئ.

په کتاب کي د هيواد د يو شميرهغو چارواکو هلوځلو ته هم پراخه کتنه شوی ده ،چي د خپل حاکميت په وخت کی يې د ښځو د ژوندانه د بهبود اوښه والی په خاطر مثبت ګامونه اخيستي دي.

زما پاملرنه يوه بل مهم ټکی هم ځان ته وراړوله ،چي حتی هغوی چي ځانونه د ښځو د حقوقو مدافعين بولی داسي ناوړه کارونه کړی دي چي سړی نه هغه د کليوالو کړه وړه هيروی،چي دا ښځي د نارينه وو د سياسی فعاليت په جرم وژل،زنداني کول،او شکنجه کول دي چي په کتاب کی دبته زياته پاملرنه سوی ده.

د داسی پيښو تر ټولو زړه بوږنونکي پيښه د سردار محمد داود خان د کورنۍ د غړو ډله ايزه وژنه وه چي ديارلس تنه يوازی ښځي او کوچنيان په ډير بی رحمانه شکل تير باران سوه چي تر ټولو کوچنی شهيد د دريو کالو ماشوم وه،او همدا د دی ډول فجايعو شروع وه،ايا د داودخان ميرمنی،لوڼو او نږندو او لمسيانو د نومړي سياسی ژوند ته



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

اسقامت ورکولای سو؟او که خاص د نوموړی د کورنۍ د غړیتوب په جرم تیرباران سوه.ایا د وخت حاکیمانو د دی غمیزي حد اقل پوښتنه وکړه،او یا یی تاثر ښکاره کړ؟
تر هغه وروسته د نورمحمد تره کی د بی اولاده سپینسری میرمنی او د نومړی د کورنۍ او پلویانو نوری ښځي او واړه په زندان کی واچول سول او و زوریدل.
وروسته بیا د امین د کورنۍ سره ورته چلند وسو،ښځي ،نجوني او حتی د دوو میاشتو ماشوم هم د زندان د میلو تر شا واچول سول اوځه کم اته کاله یی د مرګ په انتظآر کړاونه ګالل،او وروستۍ پیښه یی د ډاکتر زیري د میرمنی او بچیانو بی رحمانه حلالول وه چي د مسعود او ربانی په حکم په خپل کور کی ووژل سول.
البته داسی ډیري پیښي نوری هم سوی دي چي ما یوازی د څو لوړپوړو چارواکو د کورنیو د ښځینه او ماشومانو د قربانیو یادونه وکړه چي د خپلو کورنیو د مشرانو په خاطر بی ګناه وژل سوی،شکنجه سوی او یا زنداني سوی دي.چي د لیکوال لخواکافي اسناد وړاندي سویدي اوپوره توضیحات یبورکړیدي.
اوس خو د ازادو رسنیو په مټ هره ورځ پر ښځو او تنکیو نجونو دډله ایز جنسي تیری خبرونه د هیواد د ګوټ ګوټ نه خپرېږي،خو کوم بیداره وجدان به یی واوري؟د ښځو او نجونو نه پوزی او غوږونه پری کیږي او یو شمیر یی بیرحمانه په تاکاویو کی په میاشتو، میاشتو ځینځر اوزولانه پرتې وی خو هم د اسلامی حکومت د قضاء او څارنوالیو سترګي ړندې دي ،او هم د بشر د حقوقو د مدافعینو.
ښاغلئ نعیمی د کتاب د غنا لپاره وطن ته تللی دئ د وزیر نه نیولی بیا تر پیاده پوری یی د ښځو له بیلو کټه ګوریو سره لیدلي او مرکې یی ور سره کړي دي،د هیواد په بیلو سیمو کی یی د زنداني ښځو احوال اخیستی او د هغوی ستونزی یی نه یوازی په خپل اثر کی منعکس کړی دي،بلکی د بعضو چارواکو تر غوږو یی هم رسولی دي په لنډ ډول باید ووایم چي:
۱، کتاب ډیره غني منځپانګه لري او لوستل یي د هر چا لپاره ګټور دي.
۲، که ما کولای سوای چي لیکوال ته مشوره ورکړم ،نو به می د ښځو پر ضد د ښځو له خوا خوشونت ته ډیره پاملرنه کړی وای.
۳، دا چي ښاغللي نعیمی دیر زیار ګاللی دي زه یې د قدر په سترګه ګورم،نوموړی ته د دی اثر مبارکي وایم او په را تلونکی کي یی بریالیتوب غواړم. په احترام

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ